

# د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فيضان

**30-January-2025**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښي کيدونکے

د سُنّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

پهٔ 30 جنوری، کال 2025ء (29 رَجَب، کال 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه فيضان

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د مولٰی علي رَضِىَاللّٰهُعَنْهُ يو نصيحت
- د صديقِ اکبر رَضِىَاللّٰهُعَنْهُ د تابعداري قرآني حُکم
- د خوږ آقا صَلَّىاللّٰهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم د مورجانې سره محبّت
- د شَعبَانُ الـمُعَظَّم شريف يو څو عباتونه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***

+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، په صفحه: 28، حديثِ پاک نمبر: 28 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

كَثْرَةُ الذِّكْرِ وَ الصَّلَاةِ عَلَيَّ تَنْفِي الْفَقْرَ

ترجمه: د **الله پاک** په کثرت سره ذِکر کول او په ما باندې درود شريف لوستل غربت ختموي- (1)

اَلسَّلَام اے بادشاہِ دوجہاں! اَلسَّلَام اے سرورِ کون ومکاں!
اَلسَّلَام اے نورِ ایماں اَلسَّلَام اَلسَّلَام اے راحتِ جاں اَلسَّلَام

مانگتے پھرتے ہیں سلطان و امیر رات دن پھیری لگاتے ہیں فقیر
غمزدوں کو آپ کر دیتے ہیں شاد سب کو مل جاتی ہے منہ مانگی مراد
کیجیے رحمت حسنؔ پر کیجیے دونوں عالم کی مرادیں دیجیے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... القول البديع، صفحه: 273-

# د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَاالۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ‌عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د **الله پاک** د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پهٔ اَدَب به کښينم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د ګاؤنډي خوب او د هغې تعبير

د اِمامِ اعظم اِمام ابو حنيفه رَحۡمَةُاللهِ‌عَلَيۡه يو ګاؤنډي وو، هغهٔ ناڅاپه پهٔ سفر باندې روان شو او بصرې ته ورسيدلو۔ چې کله واپس راغلو نو اِمامِ اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِ‌عَلَيۡه د هغهٔ خيريت معلوم کړو او پوښتنه يې وکړه: خيريت دے؟ تاسو د دومره ورځو نه چرته وئ؟ ګاؤنډي ووئيل: پهٔ بصره کښې ووم۔ اوئې فرمائيل: عجيبه انسان يې، بغير د خبرولو نه لاړلې۔ بيا هغهٔ بصرې ته د تللو سبب بيان کړو او اوئې وئيل: عالي جاه! د رَمَضَانُ الۡمُبَارَک مياشت وه، ما يو خوب وليدلو، څهٔ ګورم چې تاسو پهٔ مدينه منوره کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ‌عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضې مخې ته حاضر يئ، تاسو وړاندې لاړئ، روضه مبارکه مو کولاو کړله، خلقو تاسو ته کتل، چا منع نهٔ کړئ، تاسو زما پهٔ مخکښې د مدينے د سرکار، د زړونو د قرار صَلَّى اللهُ‌عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبر مبارک نه يو څو موتې خاوره راواخستله او پوکے مو ورکړلو اخوا ديخوا مو وخرله -

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

دا خوب مې چې ولیدلو نو زهٔ ډېر ویرېدم، نو بصرې ته د اِمامِ اِبنِ سِیرِین رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ نه د تعبیر پوښتلو د پاره تلےووم- بیا هُغه ګاؤندي تعبیر بیان کړو، اوئې وئیل: اِمامِ اِبنِ سِیرین رَحۡمَۃُ اللّٰہِعَلَیۡہ ما له تسلي راکړله او اوئې وئیل: اے د خُدائے بنده–! **تا چې د چا پهٔ باره کښې دا خوب لیدلے دے، هغهٔ ډېر عظیم شخصیت دے-** بیا هغوئي پوښتنه وکړه: آیا داسې کوونکے ګس عالِم دے؟ ما عرض وکړو: آؤ جي! پهٔ دې باندې اِمامِ اِبنِ سِیرین رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ وفرمائیل: تا چې د کوم ګس پهٔ باره کښې خوب لیدلے دے، هغهٔ به د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د علومو وارث وي، عِلمِ دِین به دومره خور کړي چې جهان به روښانه شي، د هغهٔ شهرت به پهٔ مشرق او پهٔ مغرب کښې خور شي **او کوم کوم طرف ته چې هغهٔ د نوراني مزار خاوره الوځولې ده، د هُغه طرفونو ټولې علاقې به د عِلمِ دِین پهٔ نُور باندې روښانه شي-**

اِمامِ اعظم، اِمامِ ابو حنیفه رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ چې د ځان پهٔ باره کښې دا خوب او د دې ایمان تازه کوونکے تعبیر واورېدلو نو د شُکر جذبه یې پهٔ زړهٔ کښې راغله او د هغوئي پهٔ مخ باندې د خوشحالئ آثار ښکاره شول- (1)

سِپِهرِ علم و عمل کے سورج تم ہی ہو سب ہیں تمہارے تارے
تمہی سے چمکا ہے جو بھی چمکا، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ!
تمہارے آگے تمام عالَم نہ کیوں کرے زانوئے ادب خَم
کہ پیشوایانِ دین نے مانا، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ! (2)

وضاحت: اے خوږه اِمامِ اعظمه رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ! تاسو د عِلم او د عمل د اسمان نمر یئ، د اُمَّت باقي نور لوئې لوئې عالمان ستاسو نه رڼا اخستونکي ستوري دي، ستاسو نه پس اُمَّت د

---

1 ... مناقب اِمامِ اِمامِ اعظم، ص: 242-

2 ... دیوان سالك، صفحه: 95-

عِلم رڼا هم ستاسو نه اخلي، تاسو هٔغه عظيم الشان يئ چې د اُمَّت لوئي لوئي اِماِمانو تاسو اِمامِ منلي يئ، ځکه ټول جهان ستاسو ادب کوي-

صَلُّوۡاعَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! **سِراجُ الاُمَّه** (يعني د اُمَّت روښانه نمر)، **اِمام الاَئِمَّه** (يعني د اِمامانو د اِمام) حضرت اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ❁ مبارک نوم **نعمان**، ❁ د هغوئي د والد صاحب نوم: **ثابِت** او ❁ کُنيت: **ابو حنيفه** دے، داسې د هغوئي پوره نوم: ابو حنيفه نعمان بن ثابت دے- اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په 70 هجری کښې د عراق په مشهور ښار کوفه کښې دنيا ته تشريف راوړلو او د 80 کالو په عمر کښې په دويم شَعبَانُ المُعَظَّم 150 هجری کښې يې د دې فاني دُنيا نه سفر وکړو- د هغوئي مزار مبارک په بغداد شريف کښې دے- (1)

اميرِ اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡہ شان بيان کړے دے او ليکلي يې دي:

| | |
|---|---|
| ہو نائبِ سرورِ دو عالم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ! | سراجِ اُمّت فقیہِ اَفخم، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ! |
| ہے نام نُعمان ابنِ ثابِت، ابو حنیفہ ہے ان کی کُنیت | پکارتا ہے یہ کہہ کے عالم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ! (2) |

وضاحت: اِمامِ اعظم اِمامِ ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په علم او حکمت کښې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نائب دے، د اُمَّت د پاره روښانه نمر دے، ډير ماهر مفتي او عالِمِ دِين دے-

صَلُّوۡاعَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...تاریخ بغداد، جلد:13، صفحہ:331، اشکوں کی برسات، صفحہ:2 ملتقطًا-
2...وسائل بخشش، صفحہ:573-

## د هر نــمونځ نه پس دُعا کوئ!

علّامه خطيب تبرِيزي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکلي دي: **آئمهِ زُهد** (يعني د تصوف او د طريقت اِمامان) فرمائي: پهٔ اهلِ اِسلام باندې لازم دي چې د خپلو نــمونځونو نه پس د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د پاره دُعاګانې کوي ځکه چې اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهم هم هغه عظيمه هستي ده چا چې د اُمَّت خير خواهي کړې ده او د سُنَّت او د عِلمِ فقه حفاظت يــې فرمائيلے دے۔[1]

## اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه تابعي دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زمونږه اِمام، اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه تابعي دے يعني هغوئي ❀ د حضرت اَنَس بن مالِک ❀ حضرت عبد الله زُبيدي ❀ حضرت جابِر بن عبد الله ❀ حضرت مَعقَل بن يَسَار رَضِيَاللّٰهُعَنۡهُم وغيره صحابهٔ کرامو زيارت هم کړے دے او پهٔ هغوئي کښې يــې د يو څو نه حديثونه هم اوريدلي دي۔[2] او د تابعي څومره ښکلے شان دے؟ د قرآن آيت واورئ! **الله پاک** فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِؕ وَ یَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِیْنَ لَا یَعْقِلُوْنَ﴿۱۰۰﴾ (پاره:11، سورۂ توبه:100) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او نور هُغه کوم چې د نيکۍ سره د هغوئي تابعداري کوونکــي دي د هغوئي ټولو نه **الله** راضي شو او هغوئي د **الله** نه راضي دي او هغهٔ د هغوئي د پاره باغونه تيار کړي دي د کومو لاندې چې نهرونه بهيږي هميشه هميشه به پهٔ هغې کښې اوسيږي، هُم دا لويه کاميابي ده۔ |

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دې

1...الخيرات الحسان، الفصل الثالث عشر، صفحه:46۔

2...تبيض الصحيفه بمناقب ابي حنيفه، ذکر من ادرکه من الصحابه، صفحه:33 ملتقطًا۔

آيت مبارک خلاصه بيانوي او ليکي: يعني اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو پۀ صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم کښې راتلونکي مهاجرين او اَنصار او هُغه خلق کوم چې د خير سره د هغوئي پيروي وکړي (مثلاً تابعينِ کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم) د هغوئي شان دا دے چې **الله پاک** د هغوئي نه راضي شو او هُغه خلق د **الله پاک** نه راضي شول (چې **الله پاک** هغوئي پۀ غريبئ، مالدارئ، صحت، بيمارئ وغيره پۀ کوم حال کښې هُم وساتي، هغوئي د هغۀ نه راضي دي، چرې هم د څۀ څيز شکايت نۀ کوي) **الله پاک** د هغوئي د پاره داسې جنتونه تيار کړي دي، د کومو د لاندې چې وَلې [يعني نِهرونه] بهيږي، هغوئي به پۀ دغه جنتونو کښې هميشه هميشه اوسيږي، دا نعمتونه ميلاؤيدل هُم ډيره لويه کاميابي ده-[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د نيکانو صالِحانو تابعينو--!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه اِمامِ اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هُم داسې دے ❀ هغوئي د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ښه پيروي وکړه ❀ د هغوئي نه يې عِلمِ دِين زده کړو ❀ د هغوئي پۀ نقشِ سِيرت باندې تللو ❀ د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم نه يې راهنمائي حاصله کړله او ټول ژوند يې پۀ عبادت او رياضت او د دِين پۀ خدمت کښې تير کړو ❀ هميشه د **الله پاک** نه راضي اوسيدلو، کله هم، پۀ هيڅ حالت باندې هغوئي څۀ ګيله ونکړه، بس د رحمان او رحيم رَبّ د رضا طلبګار اوسيدلو، لهٰذا اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! **الله پاک** د هغوئي نه راضي دے او اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! هغوئي جنّتيان دي بلکې که **الله پاک** وغوښتل نو د هغوئي پۀ وسيله به مونږه ګنهګاران هم اوبخښلے شو-

ہو نائبِ سرورِ دو عالم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ!
سراجِ اُمّت فقیہِ اَفخَم، اِمامِ اعظم ابوحنیفہ!
جو بے مثال آپ کا ہے تقویٰ، تو بے مثال آپ کا ہے فتویٰ

1...تفسيرِنعيمى، پاره:11، التوبه، زيرِآيت:100، جلد:11، صفحه:28 بتغيرقليل-

ہیں علم و تقوٰی کے آپ سَنگَم، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ! (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ عِلمي شان

حضرت اَزهَر بن کيسان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: يو ځل زما بخت رابيدار شو، زما په خوب کښې د نبيانو د نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، شخينِ کريمين يعنې حضرت ابو بکر صِدِّيق او حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم هم ورسره وو، ما د حضرت ابو بکر صِدِّيق او حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم په خدمت کښې عرض وکړو: زه د رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه څۀ پوښتنه کول غواړم؟ اوئې فرمائيل: پوښتنه وکړه خو اواز کم ساته- ما په اَدَب سره په بارګاهِ رسالت کښې عرض وکړو: (يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم!) د ابو حنيفه د عِلم په باره کښې څۀ ارشاد دے؟ اوئې فرمائيل: هٰذَا عِلْمٌ انْفَتَحَ مِنْ عِلْمِ خِضْر يعنې **د ابو حنيفه عِلم هغه دے کوم چې د حضرت خضر عَلَیْہِ السَّلَام د عِلم نه راوتے دے-** (2)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږه د اِمام، اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ---!! د حضرت خضر عَلَیْہِ السَّلَام عِلم څنګه دے؟ دا هُم واورئ! **الله پاک** فرمائي:

وَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿۶۵﴾

(پاره:15، سورۀ کهف:65)

ترجمۀ کنزُ العِرفان: او هغۀ ته مو خپل عِلمِ لُدُني عطا کړو-

معلومه شوه چې د حضرت خضر عَلَیْہِ السَّلَام عِلم، عِلمِ لَدُنِّی (يعنې د **الله پاک** د طرف نه عطا کړے شوے خاص عِلم) دے، ابو حنيفه رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ته هم د دې عِلم نه حصه ميلاؤ

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:573 ملتقطاً-

2...الخيرات الحسان، الفصل السادس و الثلاثون، صفحه:96 ملتقطًا-

شوې ده، ځکه د هغوئ عِلم هُم عِلمِ لَدُنِّي دے۔

سراج تو ہے بغیر تیرے جو کوئی سمجھے حدیث و قرآں
پھرے بھٹکتا نہ پائے رستہ اِمام اعظم ابو حنیفہ (1)

وضاحت: د الله پاک د جناب نه هغوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته داسې عِلم ميلاؤ شوے دے د کوم په وجه چې هغوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلم د اسمان ځليدونکے ستورے دے،د هغوي د رڼا نه بغير چې څوک په قرآن او حديث باندې د پوهيدو کوشش کوي هغۀ به بے لارې کيږي او داسې به بے لارې شي چې هغۀ ته به لاره هم نۀ ميلاؤيږي۔

## د دانو نه د ډک انار مثال

حضرت محمد بن سَائِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما په مخکنبينو اسماني کتابونو کښې په يو کتاب کښې لوستلي دي چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت کښې به ابو حنيفه [رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه] د حکمت او عِلم نه داسې ډک انسان وي، لکه څنګه چې انار د دانو نه ډَک وي۔ (2)

## د عِلم په اسمان باندې د ځوارلسمې سپوږمۍ

حضرت کَعبُ الاَحبَار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تابعي بزرګ دے، هغوئ فرمائي: ما په مخکنبينو اسماني کتابونو کښې د دې اُمَّت د عالِمانو او فقهاؤ نومونه لوستلي دي، **په هغې کښې د نعمان بن ثابت په نوم د عالِمِ ذِکر هم موجود وو**، د هغوئ په باره کښې په مخکنبينو اسماني کتابونو کښې ليکلے شوي وو: دا به په خپله زمانه کښې د ټولو عِلم والؤ اِمامِ وي، د دوئ شخصيت به د عِلم په اسمان باندې د ځوارلسمې د سپوږمۍ په شان ځليږي، **خلق به د دوئ په ژوند**

1... ديوان سالك، صفحه:96۔
2... مناقب اِمامِ اعظم، ص:53۔

باندې هم رَشک کوي او د دوئي پۀ وفات باندې به هم رَشک کوي-[1]

## د مولیٰ علي رَضِیَاللهُعَنۡهُ يو نصيحت---!!

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے زمونږه اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه، هٰغه اِمامِ د کوم چې مونږه تقليد کوو يعني د چا پۀ ورکړے شوو فتوو باندې چې مونږه عمل کوو- نن سبا د سوشل ميډيا دور دے، د غير مسلمو مختلف سازشونه ډير پۀ تيزئ سره کار کوي، خلق د علمائے کرامو نه لرې کول، د دِين د اوچتو مرتبو لرونکو هستيانو نه بدګمانه کول هم د دوئي د سازشونو حصه ده، يو عجيبه شان ماحول جوړ شوے، خلق زمونږه د اسلافو، د دِين د اوچتو شخصياتو پۀ باره کښې ډيرې ګډې وډې خبرې کوي - د اِمامِ اعظم اِمامِ ابو حنيفه رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه پۀ باره کښې هم بعضې ګستاخيانې کوي- دا ډيره سخته خبره ده، پۀ **حديثِ پاک کښې دي**: څوک چې زمونږه د علماؤ حق اونه پيژني، هغۀ زما د اُمَّت نه نۀ دے- **پۀ يو روايت کښې يې فرمائيلي دي**: د عالِم حق هُم صرف منافق سپک ګڼي-

زۀ تاسو ته د مسلمانانو د څلورم خليفه، **بابِ مدينـةُ الـعِلم** (يعني د عِلم د ښار د دروازے) مولیٰ علي رَضِیَاللهُعَنۡهُ يو فرمان بيانووم، پۀ کتابونو کښې باقاعده د سند سره ليکلي شوي دي چې يو ځل مولیٰ علي شيرِ خُدا رَضِیَاللهُعَنۡهُ فرمائي: ډير زر به پۀ کوفه کښې يو ګس وي، خلق به هغۀ ته اَبُو حنيفه وائي ✿ هغۀ به پۀ خپل وخت کښې د عِلم والؤ سردار وي ✿ د ټولو ښارونو عالِمان به د هغۀ نه راهنمائي حاصلوي ✿ هغۀ به د عِلم او د حِلم (يعني قُوّتِ برداشت) خزانه وي ✿ د خپل عِلم پۀ ذريعه به پۀ زرګونو خلق د تباهئ نه بچ کوي ✿ بعضې خلق به د حسد پۀ وجه هغۀ ته رَدې بَدې وائي او خپل ايمان به خرابوي-[2]

---

1...مناقبِ اِمامِ اِمامِ اعظم، ص:53-

2...مناقبِ اِمامِ اِمامِ اعظم، ص:54-

اَلْاَمَان وَالْحَفِيۡظ...!! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! واقعي ده چې دا شرعي مسئله ده، څوک چې د عالِم سره د هغهٔ د عِلمِ دِين پهٔ وجه بغض کوي، هغهٔ د اِسلام نه ووځي- څکه مونږ له پکار دي چې هميشه د ټولو عاشقانِ رسول علمائے کرامو او د ټولو اوليائے کرامو ادب کوو، د چا پهٔ باره کښې هم څهٔ سپکه خبره نهٔ کوو-

## تقليد واجب دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته يوه شرعِي مسئله هم پهٔ ذهن کښې ساتئ چې تقليد يعنې پهٔ اَئِمَّهٔ مُجۡتَهِدِيۡنو کښې د يو تابعداري کول واجب دي، ضروري دي- **اللّٰه پاک** پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ وَ اُولِي الۡاَمۡرِ مِنۡكُمۡ ۚ

(پاره:5، سورهٔ نساء:59)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! د **اللّٰه** فرمانبرداري وکړئ او د رسول فرمانبرداري وکړئ او د هغوئي څوک چې پهٔ تاسو کښې حکومت والا دي-

د دې آيت پهٔ تفسير کښې دي چې دلته د **اُولِي الۡاَمۡرِ** (يعني حکومت کوونکو) نه مُراد عالِمان او فقهائے کرام دي- [1]

پهٔ تفسيرِ نعيمي کښې دي: يعنې اے ايمان والؤ--!! که چرې ستاسو پهٔ څهٔ مسئله کښې اختلاف پيدا شي او هغه مسئله پهٔ کتاب او سُنَّت کښې ميلاؤ نشي نو تاسو د **اُولِي الۡاَمۡرِ** (يعني د اُمَّت د عالمانو) پيروي وکړئ [يعني پهٔ هغوئي پسې روان شئ]--!! د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه پهٔ دې خبره د يو مثال پهٔ ذريعه پوهه کړي يو او ليکلي يې دي: که چرې تاسو له د لامبو وهلو چل نهٔ درځي نو

1...طبرى، 8/499-

سمندر ته مهٔ وردانګېږئ! د يو لامبو زن راويستلے شوے ملغلري د دُکان نه حاصل کړئ---!!

اَلْحَمْدُلِلّٰه! قرآن او حديث د عِلم سمندرونه دي، اِمامِ ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې لامبو زن دے، ځکه چې هغوئي د خپل فراخه عِلم پهٔ ذريعه باندې د قرآن او د حديث نه کومې ملغلرې راويستلې دي، هُغه ملغلرې اختيار کړئ---!! (1)

عموماً دلته د برصغير خلق د اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه تقليد کوي، **اللّٰه پاک** دې زمونږه پهٔ دې باندې استقامت نصيب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نشانِ قدرت، ضیائے وحدت، اِمامِ اِمامِ اعظم ابو حنیفہ
فقیہ ملت سراجِ امّت، اِمام اِمامِ اعظم ابو حنیفہ
ائمہ حق ہیں دست بستہ فقیہ اِمامِ اعظم کے در پہ حاضر
ہیں سارے حضرت کے اعلیٰ حضرت اِمامِ اِمامِ اعظم ابو حنیفہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سُنَّتو ژوندي کولو والا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اِمامِ جعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ښوک چې د اهلِ بيتِ اَطهَار رَضِيَ اللهُ عَنْهُم نه دے او ډېر لوئي اِمام دے- اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته د هغوئي د صحبت فيضان هم حاصل دے- يو ځل اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اِمامِ جعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پهٔ خدمت کښې حاضر شو نو اِمامِ جعفر رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې ښنګه وليدلو نو اوئې فرمائيل: **زهٔ وينم چې زما د نيکه بابا جان سُنَّت به تهٔ ژوندي کوې-** (2)

---

1...تفسیرنعیمی، جلد:5، صفحہ:۔

2...مناقب اِمامِ اِمامِ اعظم، ص:54۔

# د سُنَّت ژوندي کولو فضائل

سُبۡحٰنَ اللّٰہ! خومره ښکلے شان دے زمونږه د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! هغوئي د سُنَّتو ژوندي کولو والا دے۔ تاسو ته معلومه ده چې د سُنَّت ژوندي کولو والا فضيلت څهٔ دے؟ واورئ! ❁ پهٔ حديثِ پاک کښې دي: زما سُنَّت ژوندي کولو والا به د قيامت پهٔ ورځ د اللّٰه پاک د عرش د لاندې وي. [1] ❁ پهٔ يو حديث شريف کښې يې فرمائيلي دي: چا چې زما سُنَّت ژوندے کړو، هغهٔ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو، هغهٔ به پهٔ جنَّت کښې زما سره وي[2] ❁ پهٔ يو بَل حديث شريف کښې دي: چا چې د خلقو د خرابيدلو (يعني د جهالت او بے علمئ خوريدلو) په دَور کښې زما سُنَّت مضبوطئ سره ونيول، هغهٔ ته به د 100 شهيدانو ثواب ميلاؤيږي۔[3]

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! زمونږه د اِمام، اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ باره کښې د اِمامِ جعفر صادِق رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ګواهي موجوده ده چې هغوئي سُنَّت ژوندي کولو والا دے، زمونږه ښه ګمان دے چې اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! هغوئي به د قيامت پهٔ ورځ د اللّٰه پاک د عرش د سوري د لاندې وي، پهٔ جنَّت کښې به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګاؤند سعادت حاصلوي او اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د هغوئي به د ډيرو شهيدانو ثواب نصيب کيږي۔

کاش چې زمونږه هم توفيق نصيب شي، چې مونږه هم په سُنَّتو عمل کوونکي جوړ شو۔ ❁عمامه [يعني پټکے] پهٔ سر کول سُنَّت دے، پهٔ سر کوئ يې! ❁کيره پريښودل سُنَّت دي، نن او هم د اوس نه يې پريږدئ! ❁ د سُنَّت مطابق جامې اغوندئ! ❁ [د سُنَّت مطابق]

1...البدور السافرة، صفحه:169۔170، حديث:364۔

2...مشكاة المصابيح، كتاب الايمان، جز:1، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

3...مشكاة المصابيح، كتاب الايمان، جز:1، جلد:1، صفحه:55، حديث:176۔

زُلفې پرېږدئ ❀ کور ته تلل راتلل، کښيناستل پاڅېدل،ګرځېدل، سلام کول، خوراک څښاک، ټول د سُنَّتو مطابق کړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! پهٔ سُنَّتو باندې د عمل کولو سعادت به مو نصيب کيږي، خپلو پېژندګلو، خپلو منونکو، دوستانو، خپلوانو وغيره ته په سُنَّتو باندې د عمل کولو ترغيب ورکوئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! پهٔ هر کور کښې به سُنَّت عام شي او که **اللّٰه پاک** وغوښتل نو ډېر ثوابونه به مو نصيب شي- په حديث شريف کښې دي: مَنۡ تَمَسَّكَ بِالسُّنَّةِ دَخَلَ الۡجَنَّةَ چا چې زما سُنَّت مجبوطئ سره ونيول، هغه به جَنَّت ته داخلېږي. (1)

سنتیں عام کریں دین کا ہم کام کریں | نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! که مونږه د عاشقانِ رسول سره پهٔ قافلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړو نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! د سُنَّتو د زده کولو به هم سعادت نصيب شي، پهٔ هغې باندې به د عمل کولو جذبه به هم نصيب شي او ورسره ورسره به د سُنَّتو پيغام نورو ته د رسولو سعادت هم نصيب شي- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي پهٔ ديني ماحول کښې د 3 ورځو، 12 ورځو، يوې مياشت او د 12 مياشتو قافلې سفر کوي- تاسو هم خپل ذهن جوړ کړئ! کم از کم پهٔ هره مياشت کښې خو د 3 ورځو په قافله کښې لازمي سفر کوئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! ډېر ثوابونه به مو نصيب شي-

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
چاہو گر برکتیں قافلے میں چلو | پاؤ گے عظمتیں قافلے میں چلو
بارہ مہ کیلئے تیس دن کیلئے | بارہ دن دے ہی دیں قافلے میں چلو
سنّتیں سیکھنے تین دن کیلئے | ہر مہینے چلیں قافلے میں چلو

1... کتاب الافراد للدارقطنی، جز:4، صفحه:114، حديث:52-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!        صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه كردار او د صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فيضان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير ښكلے حديثِ پاک دے، فرمائي: اَصْحَابِي كَالنُّجُومِ بِاَيِّهِمْ اِقْتَدَيْتُمْ اِهْتَدَيْتُمْ زما صحابه د ستورو پۀ شان دي، تاسو چې پۀ دوئي كښې د چا پيروي هم وكړئ، هدايت به بياموئ-(1)

د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت ابو بكر صِدّيق رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د ټولو صحابۀ كرامو رَضِىَ اللهُ عَنْهُم نه افضل دے، هغوئي د دواړو جهانو د آقا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک مزاج نه ډير خبر وو، نو اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حديث باندې داسې عمل وكړو چې حضرت صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ يې خپل آئيډل جوړ كړو، د هغوئي دا معمول مبارک وو چې د خپل ژوند پۀ هره معامله كښې به يې د صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د سيرت نه راهنمائي حاصلوله- (2)

هر صحابِيِ نبي! جَنَّتي جَنَّتي
تولې صحابِياتې هُم! جَنَّتي جَنَّتي
خلور ياران د نبي! جَنَّتي جَنَّتي
حضرتِ صديق هُم جَنَّتي جَنَّتي
او عُمر فاروق هُم جَنَّتي جَنَّتي
عُثمانِ غني جَنَّتي جَنَّتي
فاطِمه او علي جَنَّتي جَنَّتي
دي حسن حُسين هُم جَنَّتي جَنَّتي
والدين د نبي جَنَّتي جَنَّتي
هره زَوجۀِ نبي جَنَّتي جَنَّتي
او ابُو سُفيان هُم جَنَّتي جَنَّتي
دے مُعاوِيه هُم جَنَّتي جَنَّتي

---

1...المؤتلف والمختلف للدارقطنی، باب الغين، جلد:4، صفحه:1778-

2...مناقب ابی حنيفه للموفق، الباب السادس فی ذكر اصول التی بنی عليها مذهبه، جز:1، صفحه:82-

# د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ د تابعدارۍ قرآني حکم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له هم پکار دي چې په صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُم کښې يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ خپل آئيډيل جوړ کړو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د کوم صحابي لمن چې هم ونيسو، نيغ به جنَّت ته وَرَسو- او تر ټولو پورې چې د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ خبره ده--!! د هغوئي خو بيا ډير ناشنا شان دے، په 21 سيپاره، سورهٔ لقمان، آيت: 15 کښې الله پاک فرمائي:

وَ اتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ

(پاره: 21، سورهٔ لقمان: 15)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زما طرف ته د رجوع کوونکي کس په لاره ځه-

سُلطَانُ المُفَسِّرين، حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُما فرمائي: په دې آيت مبارک کښې مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ يعنې د الله پاک طرف ته د رجوع کوونکي نه مُراد حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ دے- يعنې په دې آيت کښې حکم ورکړے شوے دے چې اے خلقو--!! د ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ تابعداري اختيار کړئ--!!

سُبْحٰنَ الله! د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ څومره اوچت شان دے--! لږ تصور خو وکړئ چې الله پاک کوم چې د ټولو جهانونو رَبّ دے، هغهٔ حکم فرمائي چې زمونږه د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ صحابي ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ په لار باندې روان شئ--! معلومه شوه چې ❀ حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ د رښتونې لارې مسافر دے ❀ د حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ لاره نيغه د جنَّت لار ده ❀ د حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ لاره الله پاک ته د رسيدو لاره ده- ځکه چې څوک هم د حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ په نقشِ سيرت باندې ځي، هغهٔ به د الله پاک طرف ته رجوع کوونکے وي او که الله پاک وغوښتل نو ضرور به د الله پاک په بارګاه کښې اوچتې مرتبې والا شي-

| | |
|---|---|
| نہایت متقی و پارسا صدیقِ اکبر ہیں | تقی ہیں بلکہ شاہِ اَتقِیَا صدیقِ اکبرؔ ہیں |
| اَمِیْرُ الْمُؤمِنِیْں ہیں آپ اِمامِ الْمُسْلِمِیْں ہیں آپ | نبی نے جنّتی جن کو کہا صدیقِ اکبر ہیں |
| سبھی اصحاب سے بڑھ کر مقرّب ذات ہے انکی | رفیقِ سرورِ اَرض و سما صدیقِ اکبر ہیں (1) |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سیرت خپل آئیډیل جوړ کړو، اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د هغې فیضان د هغوئي داسې نصیب شو لکه څنګه چې حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د ټولو خوبیانو والا دے، د هغوئي په برکت اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ هم د ډیرو خوبیانو مالِک شو- راځئ چې د هغوئي د پاک سیرت د یو څو اهمو طرفونو د اوریدو سعادت حاصل کړو:

## د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ ښکلے سیرت

د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ خاص شاګرد اِمامِ ابو یوسُف رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ فرمائي: **(1)**: اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ به د حرامو کارونو نه همیشه ځان بچ ساتلو **(2)**: د عِلمِ دین نه علاوه به د خبرو کولو نه ویریدلو **(3)**: ډیره زیاته مجاهده (یعني په نیک کارونو کښې به یې ډیر زیات کوشش) فرمائیلو **(4)**: د دُنیادارو به یې د هغوئي په مخکښې تعریف نهٔ کولو **(5)**: اکثر به خاموش وو **(6)**: په دِیني مسئلو کښې به یې غور او فِکر کولو **(7)**: ډیر ساده او د نرم طبیعت مالِک وو **(8)**: د هغوئي نه چې به چا پوښتنه وکړه نو په قرآن او حدیث کښې به یې د هغې جواب لټولو **(9)**: په طبیعت مبارک کښې یې لالچ نهٔ وو **(10)**: او چې د چا ذِکر به هم کیدلو نو د ښې خبرې نه علاوه به یې هیڅ نهٔ فرمائیل-[2]

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:565-566 ملتقطاً-

2...الخیرات الحسان، الفصل الرابع و العشرون، صفحہ:82 ملتقطًا-

# لس زره ما مُعاف کړلې

اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ ډېر سخي وو، د هغوئي عادت مبارک وو چې ❁ خومره مال چې به يې پهٔ خپل بال بچ باندې لګولو، هم هُغه همره به يې صدقه کولو ❁ چې کله به يې نوې جامې اغوستلې نو د هُغه همره قيمت کپړه به يې عالمانو له هم اخستله ❁ چې کله به هغوئي ته ډوډۍ کېښودلے شوه نو چې خومره به يې پخپله خوړله، هُم هُغه همره به يې پهٔ کوم غريب هُم خوړله-(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د ښيګړې ناشنا انداز

د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ عادت مبارک وو چې د خلقو سره به يې ښيګړه کوله، يو ځل يو ګس د هغوئي پهٔ خدمت کښې حاضر شو، عرض يې وکړو: عالي جاه! ما ته د بهترينو کپړو ضرورت دے، پهٔ ما باندې احسان وکړئ! اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ ورته وفرمائيل: ټيک ده، تاسو دوه هفتې پس راشئ- هُغه ګس دوه هفتې پس بيا حاضر شو، اوئې فرمائيل: سبا راشئ- نو هغهٔ لاړو او پهٔ بله ورځ بيا حاضر شو، هغوئي هُغه ګس له بهترينې کپړې او څهٔ نعدي پيسي ورکړې، هغهٔ کپړې خو قبولې کړې خو د نعدو پيسو اخستو نه يې انکار وکړو، هغوئي وفرمائيل: ما د خپل تجارت پهٔ مال کښې ستاسو د نوم څهٔ مال شامل کړے وو، د هغې چې کومه ګټه ميلاؤ شوه، پهٔ هغې باندې مې ستا کپړې واخستلې، دا رقم پکښې پاتې شو، اوس دا هم ستاسو دے- دا يې چې واوريدل نو هغهٔ پيسي او کپړې واخستلې او پهٔ خوشحالۍ خوشحالۍ او پهٔ دعاګانو کولو واپس لاړو-

---

1...تاريخ بغداد، جلد:13، صفحه:356 ملتقطًا-

که اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه غوښتلے نو هغهٔ له يـې کپړې هم ورکولے شوې، هغهٔ له يـې مال هم ورکولے شو خو هغوئي د هٔغه ګس پهٔ نوم باندې تجارت وکړو، پهٔ دې کښې څهٔ حکمت وو، چې پهٔ دې باره کښې د هغوئي نه پوښتنه وکړے شوه نو اوئې فرمائيل: **هغهٔ وئيلي وو: پهٔ ما باندې احسان وکړئ! نو د احسان (يعنې د ښيګړې) هم دغه شکل وو۔** [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! څومره ښکلې خبره ده، هٔغه ګس د مدد غوښتو د پاره راغلے وو خو اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغوئي سره کمال ښيګړه وکړه، د هغهٔ د پاره يـې مال پهٔ تجارت کښې شامل کړو او ټوله ګټه يـې هغهٔ له ورکړله۔ دې ته وئيلے شي: ښيګړه کول۔ کاش چې مونږه هم د نورو سره د ښيګړې کولو والا جوړ شو۔ څومره چې رانه کيدے شي نو نورو ته فائده ورسوو او هٔغه کار اختيار کړو پهٔ کوم کښې چې د نورو خلقو ډيره فائده وي، مثلاً غريب له مو څهٔ پيسې ورکړلې! دا يقيناً چې د هغهٔ مدد دے، دا هم د ثواب کار دے خو که **الله پاک** وَس درکړے وي نو هغهٔ له وړوکےشان کاروبار شروع کړئ ، لږه شان د کرياني سودا ورله پهٔ دکان کښې واچوئ چې د هغهٔ د بچو خرچه پرې روانه وي، يقيناً چې پهٔ دې کښې د غريب ډيره فائده ده۔ ځکه چې تر څو پورې ممکن وي، نورو ته ډيره فائده رسوئ۔

## د مجبورۍ نه فائده مهٔ اخلئ!

دلته خلق د نورو د مجبورۍ نه فائده اخلي ❁ که پهٔ خپلو خپلوانو کښې څوک غريب دے، خلق د هغهٔ د غريبۍ نه فائده اخلي، پهٔ کمه تنخوا پهٔ هغهٔ باندې کار کوي ❁ که څوک غريب پهٔ نوکرۍ ولګوي نو د هغهٔ د مياشتې د تنخوا نه پيسې اخلي چې تهٔ خو ما پهٔ نوکرۍ کړے يـې ❁ که کوم غريب لګ سبق وئيلے وي، خلق د هغهٔ د بے علمۍ نه فائده اخلي

---

1...مناقبِ اِمامِ اعظم، ص:277۔

او هغۀ دوکه کوي ❁ سُود کوم چې حرام دے، دا مکمل طور د مجبورو نه د فائدې اخستو نوم دے، د چا غریب قرض ته حاجت دے، خلق هغۀ له قرض ورکړي او پۀ هغې باندې منافع اخلي، دې ته سُود وئیلے شي ❁ که څوک پۀ څۀ مسئله کښې وانخلي، د مجبورۍ نه خپل سامان خرڅوي، خلق د هغۀ د مجبورۍ نه فائده اخلي او څیزونه ترینه ارزان اخلي- داسې زمونږه پۀ معاشره کښې ډیر صورتونه موجود دي چې خلق د نورو د مجبورو نه فائدې اخلي- دا ډیره غلطه خبره ده-

## څۀ چې د ځان د پاره خوښوې هغۀ به د نورو د پاره هم خوښوې

یو حدیثِ پاک دے که چرې مونږه دا پۀ خپل ذهن کښې کښینوو او دا پۀ خپل ژوند کښې نافذ کړو نو یقین وکړئ چې ټوله معاشره د سکون او امن نۀ ډکیدے شي- زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: لَایُؤۡمِنُ اَحَدُکُمۡ حَتّٰی یُحِبَّ لِاَخِیۡهِ مَا یُحِبُّ لِنَفۡسِهٖ یعنې پۀ تاسو کښې څوک هم د هٰغه وخته پورې (کامِل) ایمان والا نشي کیدے تر څو پورې چې د خپل مسلمان ورور د پاره هم هٰغه څیز خوښ نکړي کوم چې د خپل ځان د پاره خوښوي-

څومره ښکلې قاعده ده- دې د پاره مونږ ته د ډیرو معلوماتو ضرورت نشته، بس هُم پۀ خپل ځان باندې غور وکړئ! څۀ چې د ځان د پاره خوښوئ، هغه د نورو د پاره هم خوښوئ! مثلاً که څوک مونږ له دوکه راکړي نو آیا مونږه یې خوښوو؟ نه---!! نو نورو له هم دوکه مۀ ورکوئ! ❁ که څوک مونږ ته کنځل وکړي نو آیا مونږه هغه خوښوو؟ نه---!! بس نورو ته هم کنځلې مۀ کوئ! ❁ که څوک مونږ ته دروغ ووائي نو آیا مونږ یې خوښوو؟ نه---!! ځکه نورو ته هم دروغ مۀ وایئ! ❁ که څوک مونږ له تکلیف راکړي نو آیا مونږ یې خوښوو؟ نۀ یې خوښوو- ځکه نورو له هم تکلیف مۀ ورکوئ! ❁ که څوک زمونږه د مجبورۍ نه

فائده واخلي نو آيا دا خبره مونږه خوښوو؟ نۀ يــې خوښوو، ځکه د نورو د مجبورۍ نه هم فائده مۀ اخلئ! ❁ که مونږه بازار ته لاړ شو او دکاندار مونږ له د کــم قيمت څيز پۀ ډيرو پيسو راکړي، خراب څيز راته د ښه او اعلیٰ معيار ښکاره کړي او را يــې کړي نو آيا مونږه به يــې د ځان د پاره خوښوو؟ هيڅکله يــې هم نۀ خوښوو- ځکه د نورو سره هم داسې مۀ کوئ! بس داسې سوچ کوئ، چې د ځان د پاره څۀ خوښوئ، هم هُغه د نورو د پاره هُم خوښوئ، څۀ چې د ځان د پاره نۀ خوښوئ هغه د نورو د پاره هم مۀ خوښوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! كامِل مؤمِن به جوړ شئ-

## د پيسو واپس کولو د پاره مدينے منورې ته ورسيدلو

پۀ دې باره کښې د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ يوه ښکلې واقعه واورئ! يو ګس وو، د مدينے منورې اوسيدونکے وو، د هغۀ يو خاص قِسمه کپړو ته ضرورت شو- هغۀ هُغه کپړه ولټوله خو چرته ورته ميلاؤ نۀ شوه، بيا هغۀ ته معلومه شوه چې دا کپړه صرف د اِمامِ ابو حنيفه رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ سره ميلاؤيدے شي- نو هغۀ د کپړو اخستو د پاره کوفې ته ورسيدلو- د اِمامِ اعظم، اِمامِ ابو حنيفه رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ دکان ته راغلو، هُغه وخت اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ پۀ دکان کښې موجود نۀ وو، شاګرد ورته کپړه وښودله، د هُغه ګس کپړې ته ضرورت وو او کپړه د هغۀ خوښه شوې هم وه، بيا شاګرد څۀ وکړل چې هُغه کپړه د کومې قيمت چې 400 درهمه وو، شاګرد پرې پۀ زر [1000] درهمه خرڅه کړله- هُغه ګس هم پۀ خوشحالۍ خوشحالۍ واخستله-

د دې واقعې ډيرې ورځې تيرې شوې- ډيرې ورځې پس اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د شاګرد نه هُغه کپړه وغوښتله، هغۀ ووئيل چې هغه خو ما پۀ 1000 درهمه خرڅه کړې وه- بس دا اوريدل وو چې اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ شاګرد ته غصه شو چې تۀ دوکه کوې، ډير قيمت اخلې، لهذاتۀ زما پۀ دکان کښې کار نشې کولے- دا يــې ووئيل او هغوئي شاګرد د کار نه فارغ

کړو او پخپله يـې دکان بند کړو او مدينے منورې ته ورسيدلو- هُغه ګس يـې لټولو- په لټولو لټولو جومات ته ورسيدلو نو هُغه ګس د هُغې کپړې څادر اچولے وو او نـمونځ يـې کولو- هغوئي هم جومات ته ورغلل، نفل يـې ادا کړل- چې کله هُغه ګس د نـمونځ نه فارِغ شو نو اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللہِعَلَيۡه د هغوئي مخې ته 1000 درهمه کېښودل او اوئې فرمائيل: دا کپړه ما له راکړئ او رقم واپس واخلئ! هُغه ګس ووئيل: زۀ خو د ډيرو ورځو نه دا داسې استعمالووم او کوم قيمت چې ما ادا کړے وو، زۀ په هغې باندې راضي هم يم، ځکه زۀ دا کپړه نۀ واپس کووم- اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللہِعَلَيۡه د هغۀ سره بحث وکړو، اخر يـې ورته 600 درهمه واپس کړل او کوفې ته يـې واپس تشريف راوړلو-[1]

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره ښکلے انداز دے، تاسو غور وکړئ چې د موجوده نقشې مطابق د کوفې نه د مدينے منورې فاصله 14 سوه 43 کلوميټره ده- څومره ډير مزل دے؟ هُغه ګس کوم چې کپړه اخستې وه، په خپله خوښه يـې اخستې وه، په خپله خوښه يـې قيمت ورکړے وو، که دلته داسې وشي نو خلق خوشحاليږي، بعضې خو د ځان تعريفونه هم کوي چې ګوره ما دومره دوکه وکړه بلکې که د وهلو خبره وشي نو خلق په خپل دکان کښې داسې ملازم ساتل خوښوي کوم چې د کـم قيمت څيز په ډيرو پيسو خرڅوي، څوک چې په ډيره صفايۍ سره دوکه ورکول پيژني، په مارکيټ کښې هغۀ له ډير اهميت ورکولے شي خو دا زمونږه اِمام، اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللہِعَلَيۡه وو، هغوئي 14 سوه 43 کلوميټره سفر وکړو چې اخستونکي ته يـې 600 درهمې واپس کړلې نو بيا د هغوئي ارام او سکون نصيب شو- کاش چې زمونږه هم دا سعادت نصيب شي- کاش چې مونږه د نورو د پاره هُغه څۀ خوښ کړو، کوم چې د ځان د پاره خوښوو- **الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو

---

1...مناقبِ اِمامِ اِمامِ اعظم، ص:213-

توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د مور جانې سره نيک سلوک

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه يو بَل ډېر ښکلے عادت مبارک وو چې هغوئي به د خپل مور پلار سره ښه سلوک کولو- هغوئي مَاشَآءَاللّٰه! د خپلې زمانې د ټولو عالمانو سردار وو خو داسې کيږي چې که زوي هر څومره هم لوئي شي نو د مور د پاره خو هُم هُغه شان ماشوم وي- په کتابونو کښې ليکلي دي چې که د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه مور جانې به د څۀ مسئلې پوښتنه کوله نو د خپل شهزاده نه به يـې پوښتنه نۀ کوله بلکې هم هغوئي ته به يـې وئيل: زويه! ما د فلانکـي مفتي صاحب خوا له بوځهٔ، زۀ ترينه د مسئلې پوښتنه کووم-

بيا د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه کمال عاجزۍ او ډېر د ادب والا انداز ته وګورئ چې هغوئي به خپله مور جانه د مفتي صاحب خوا له بوتلله، د پردې کولو سره به مور جانې د مسئلې پوښتنه کوله، ډېر ځل خو به داسې هم کيدل چې مسئله به ګرانه وه، مفتي صاحب له به هم د هغې جواب نۀ ورتللو نو اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه به يو طرف ته شو او پخپله به يـې مفتي صاحب ته جواب بيان کړو چې **تاسو مور جانې له داسې جواب ورکړئ!** [1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے شان دے د اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه ---!! د خپلې زمانې د ټولو نه لوئي عالِمِ دِين دے او د خپلې مور جانې په مخکښې به يـې څنګه ځان څومره نا اشنا کولو- دلته خو که بچے درې څلور ډګرياني حاصلې کړي نو هغوئي ته خپل مور پلار بيا جاهلان ښکاري ✿ بابا جانه! تۀ د څۀ نۀ څۀ خبر يـې؟ ✿ تۀ د پخوانۍ زمانې سړے يـې، اوس وخت بدل شوے دے ✿ اوس خو د ټيکنالوجۍ (***Technology***) زمانه ده، تۀ لا اوس هم په

1...مناقبِ اِمامِ اِمامِ اعظم، ص:213-

پخواني وخت کښې ژوند کوې- داسې د بے ادبۍ والا جُملې خلق وائي- **اَلۡاَمَان وَالۡحَفِيۡظ**---!! ورورہ! لږ سوچ خو وکړئ! ❁ چا چې به مونږه د ګوتې نه نيولي وو او ګرځيدل يـې راته ښودل ❁ چا چې پخپله نهره تيره کړله او ❁ د خپلو خواهشاتواو ضرورتونو قرباني يـې ورکړله او ❁ خواري محنت يـې وکړو او په مونږ باندې يـې سبق ووئيلو، لوئې يـې کړو، دومره ډيرې ډکرياني يـې راباندې وکړلې، آيا هغه دا دي کوم چې هډو په څۀ هم نۀ پوهيږي---؟ دا پۀ ذِهن کښې ساتئ! چې کوم تعليمِ يافته ته خپل مور پلار جاهلان ښکاري، که هغۀ هر څومره تعليمِ يافته وي خو پۀ حقيقت کښې د عِلم د نُور نه محرومه دے-

## د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مور جانې سره محبت

تاسو ته معلومه ده چې پۀ دې کائنات کښې د ټولو نه لوئې عالِم څوک دے؟ زما او ستاسو آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ---!! چا ته چې مخکښني وروستني ټول علوم عطا کړے شول- د چا پۀ باره کښې چې **اللّٰه پاک** فرمائي:

وَعَلَّمَكَ مَا لَمۡ تَكُنۡ تَعۡلَمُ ؕ
(پاره:5، سورۀنساء:113)

ترجمۀ کنزُ العِرفان: او تا ته يـې هُغه هر څۀ درزده کړل کوم چې تا ته نۀ وو معلوم-

د دُنيا څۀ ذَرَّه د هغوئي د عِلم نۀ پټه نۀ ده- دا شان دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، پۀ کائنات کښې د هغوئي نه افضل نۀ څوک وو او نۀ څوک کيدے شي- د دومره فضيلت، مقام او د مرتبے باوجود د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواهش ته وګورئ! څومره ښکلے دے- نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زما زړۀ غواړي چې کاش مور جانه ژوندۍ وے، ما نـمونځ کولے، زما مور جانې سيده آمنه رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهَا ما ته اواز کړے وے نو ما به نـمونځ مات کړے وے او زر به د مور جانې خوا له ورغلے وے- (1)

---

1... شعب الايمان، باب في بر الوالدين، جلد:6، صفحه:195، حديث:7881-

دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت سبق--!! پۀ اصل کښې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته راښائي چې اے زما غلامانو--!! تاسو که هر څومره لوئي شئ! که تاسو هر څومره ډګرياني هم حاصلې کړئ، که هر څومره لوئي افسر جوړ شئ! د دې باوجود د مور پلار ادب او احترام هميشه کول دي. **الله پاک** دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يوه اهمه شرعي مسئله

دلته يوه شرعي مسئله واورئ! که مور يا پلار په څه لوئي مصيبت کښې ګير وي او زوي ته اواز وکړي، هٰغه وخت که زوي فرض نمونځ هُم کوي نو حکم دا دے چې نمونځ دې مات کړي او د مور پلار په خدمت کښې دې حاضر شي، وروسته دې بيا نمونځ راوګرځوي که نفل نمونځ کوي او مور پلار ته معلومه نه وي چې هغه نمونځ کوي نو په داسې حالت کښې که ورته معمولي شان اواز هُم وکړي نو حکم دا دے چې نفل نمونځ دې مات کړي او د مور او پلار په خدمت کښې دې حاضر شي. ياد ساتئ چې نفل نمونځ مات کړي نو د هغې قضا راګرځول به واجب وي. (1)

## اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د مور جاني اَدَب

د خپل وخت ډير لوئي بلکې د ټولو نه لوئي عالِم، مفتي، مُحَدِّث، مُفَسِّر، شاعِر دے څوک؟ زمونږه اِمامِ، نائبِ اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اعلٰى حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت اِمامِ احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه- يو ځل هغوئي پۀ کور کښې خپل شهزاده ته سبق ښودلو، شهزاده صاحب له سبق نه ورتللو، هغوئي د زدکړې پۀ غرض هغوئي له پۀ ورو شان ډَب ورکړو- عموماً د نياګانو د خپلو

1...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:637-638، حصه:3بتصرف-

نمسو سره ډېره مينه وي، نو چې کله اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل شهزاده له ډَب ورکړو نو مور جانه يعنې د شهزاده نيا صاحبه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها ورسره هُم په خوا کښې وه، هغې اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه له په ملا باندې يو پړق ورکړو او اوئې فرمائيل: زما نمسے ولې وهې- اوس که دا زمونږ په شان څوک وے نو غصه کيدے به، کيدے شي چې درې څلور ورځې به يې د مور سره خبرې هم نۀ کولے خو دا اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو، د هغوئي د عِلم نُور نصيب شوے وو، نو هغوئي د مور جانې ادب وکړو او ودريدلو، لاس يـې په نامه کينښودلو او په ادب سره يـې عرض وکړو: مور جانې! ما لږ نور هم ووهئ---!!

سُبْحٰنَ الله! دا د مور پلار ادب دے- د چا چې د عِلم نُور نصيب شي، هغوئي د خپل مور پلار هُم داسې ادب کوي- **الله پاک** دې مونږ ته هم د مور پلار د ادب او احترام کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ټوله ټوله شپه عبادت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېر لوئي عالِم هم وو، هغوئي به ټوله ورځ په عِلم دِين زده کولو او ښودلو کښې مصروف وو، يقيناً چې دا هُم عبادت دے، د دې سره سره به هغوئي ټوله ټوله شپه عبادت هم کولو- علّامه اِبنِ حجر هَيتَمِي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: د اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ټوله شپه عبادت کول او تهجد کول په تواتر سره ثابت دي چې هغوئي به تر ديرشو کالو پورې په يو رکعت کښې پوره قرآن لوستلو او اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تر څلويښتو کالو پورې د ماسخوتن په اوداسه باندې د سحر نـمونځ ادا کړو-[1] ✿ يو ځل د حضرت عبد الله بن مبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مخکښې يو کَس

1...الخيرات الحسان، الفصل الرابع عشر، صفحه:50 ملتقطًا-

د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه غيبت وکړو نو حضرت عبد الله بن مبارک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه وفرمائيل: پهٔ تا باندې افسوس دے چې تهٔ د داسې کَس غيبت کوې چا چې تر 45 کالو پورې پهٔ يو اودس پينځه واړه نمونځونه ادا کړل او پهٔ يو رکعت کښې به يې د قرآنِ پاک ختم فرمائيلو او زما سره چې د فقهې کوم عِلم دے، هغه ټول ما د هغوئي نه حاصل کړے دے- [1] ❀ اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به ټوله شپه هُم پهٔ يو رکعت کښې د قرآن شريف ختم کولو او د **الله پاک** د ويرې نه به يې دومره ژړل چې د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د ګاؤنډيانو به هم پهٔ هغوئي باندې رحم راتللو- [2]

## د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه معمول مبارک

حضرت مِسعَر بنِ کِدام رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: زهٔ د اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه جومات ته حاضر شوم، وه مې کتل چې د سحر د نمونځ ادا کولو نه پس اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خلقو ته ټوله ورځ عِلمِ دِين ښودلو، پهٔ دغه وختونو کښې صرف د نمونځونو وقفې وشوې- د ماسخوتن د نمونځ نه پس اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خپل کور ته تشريف يوړلو- لږ شان وخت پس يې بيرته پهٔ ساده شان جامو کښې واپس تشريف راوړلو او پهٔ نفلونو کولو کښې مصروف شو تر دې چې صبحِ صادِق شو، بيا يې کور ته واپس تشريف يوړلو او جامې يې بدلې کړې او واپس راغلو او د سحر نمونځ يې د جَمعې سره د ادا کولو نه پس د تيرې ورځ پهٔ شان بيا د درس او تدريس سلسله جاري وه- ما سوچ وکړو چې اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به ډير ستړے شوے وي، نن شپه خو به ضرور ارام فرمائي، خو پهٔ دويمه شپه هم هُغه معمول وو- بيا دريمه ورځ او شپه دغه شان تيره شوله- زهٔ ډير متاثر شوم

---

1...الخيرات الحسان، الفصل الرابع عشر، صفحه:50-

2...الخيرات الحسان، الفصل الرابع عشر، صفحه:50-

او ما فیصله وکړه چې ټولو عمر به د دوئي خدمت کووم- نو ما هُم د هغوئي په جومات کښې مستقل قیام اختیار کړو- ما د خپل قیام په موده کښې چرې هم اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ د ورځې د روژې نیولو نه بغیر او د شپې د عبادت او د نفلونو نه غافل نۀ دے لیدلے- البته د ماسپښین نه مخکښې به اِمامِ اعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ لږ شان ارام فرمائیلو- (1)

## 30 کاله پرله پسې روژې

منقول دي چې هغوئي پرله پسې 30 کاله روژې ونیولې، تر 30 کالو پورې یې په یو رَکعَت کښې د قرآنِ پاک ختم کولو، د څلویښتو کالو پورې یې د ماسخوتن په اودس باندې د سحر نـمونځ ادا کړو، په کوم ځائے کښې چې هغوئي وفات شول په هُغه ځائے کښې هغوئي 7 زره کرته د قرآنِ کریم ختم وکړو- (2)

ہمارے آقا ہمارے مولیٰ اِمامِ اِمامِ اعظم ابو حنیفہ
ہمارے ملجاء ہمارے ماویٰ اِمامِ اِمامِ اعظم ابو حنیفہ
زمانہ بھر نے زمانہ بھر میں بہت تجسس کیا و لیکن
ملا نہ کوئی اِمامِ تم سا اِمامِ اِمامِ اعظم ابو حنیفہ
نہ کیوں کریں ناز اہلِ سنت کہ تم سے چمکا نصیبِ امت
سراجِ امت ملا ہو تم سا اِمامِ اِمامِ اعظم ابو حنیفہ

## د شَعبَانُ الـمُعَظَّم شریف یو څو عبادتونه

**اللّٰه پاک** دې مونږ ته په کثرت سره د عبادت کولو توفیق راعطا کړي- اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د شَعبَانُ الـمُعَظَّم میاشت تشریف راوړونکې ده- شَعبَانُ الـمُعَظَّم ډیره د عظمت والا میاشت ده، په دې

---

1...اَلۡمَنَاقِب لِلۡمُوَفَّق ج۱ ص۲۳۰تا۲۳۱-

2...اشکوں کی برسات-

کښې خیر او برکت راوریږي- آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: شَعْبَانُ الْمُطَهِّرُ وَ رَمَضَانُ الْمُكَفِّرُ شعبان پاکوونکې دہ او رمضان کفارہ دہ-[1]

پۀ دې مبارکه میاشت کښې د ښه ډیر عبادت کوشش وکړئ- د شَعبَانُ الـمُعَظَّم خلور ډیر اهم عبادتونه دي، که زیات نۀ وي نو چې کم از کم مونږه د دې خلورو عبادتونو معمول جوړ کړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډیر برکتونه به مو نصیب شي-

## (1): د دُرُود شریف کثرت

سرکارِ غوثِ اعظم، شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: هو شَهْرُ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ یعنې شعبان پۀ جانِ جانان جانِ ایمان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود لوستلو میاشت دہ-[2]

ځکه پۀ دې مبارکه میاشت کښې د دُرُودِ پاک کثرت وکړئ! **پۀ حدیثِ پاک کښې دي:** یو ځل پۀ دُرُود شریف لوستونکې باندې لس رحمتونه نازلیږي، د هغۀ لس درجې اوچتیږي د هغۀ د پاره لس نیکۍ لیکلې کیږي د هغۀ لس ګناهونه ورانولې کیږي-[3]

فضول گوئی کی نکلے عادت، ہو دور بے جا ہنسی کی خصلت
دُرُود پڑھتا رہوں میں ہر دم، اِمامِ اعظم ابو حنیفہ! (4)

## (2): تلاوت کول

هُم داسې د قرآنِ پاک تلاوت هم د شَعبَانُ الـمُعَظَّم اهم عبادت دے بلکې پۀ بعضې روایتونو کښې د شَعبَانُ الـمُعَظَّم نوم هُم "شَهْرُ الْقُرْآن" (یعنې د قرآن د تلاوت میاشت) کیښودلې شوے

1...جامع صغیر، صفحه:301، حدیث:4903-

2...غنية طالبی، مجلس فی فضل شهر شعبان، جلد:1، صفحه:342-

3...ترمذی، کتاب الوتر، باب فی فضل الصلاة علی النبی، صفحه:144، حدیث:484-

4...وسائلِ بخشش، صفحه:574-

دے، پۀ يو روايت کښې دي: شَعبَانُ الۡمُعَظَّم د **اللّٰه پاک** پۀ حُضُور کښې عرض وکړو: يا رَبَّه! تا زۀ د دوو عظمتونو والا مياشتو (رجب او رمضان) پۀ مينځ کښې ساتلې يم، زما د پاره څۀ دي؟ اوئې فرمائيل: **ما پۀ تا کښې د قرآن تلاوت کيښودے دے۔** (1) ❁ **پۀ روايت کښې دي**: د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم معمول وو چې خنګه به د شَعبَانُ الۡمُعَظَّم مياشت راغله نو پۀ پوره توجه سره به د قرآن پۀ تلاوت کښې مصروفه کيدل۔ (2)

کاش چې زمونږه هم توفيق نصيب شي، مونږه هم پۀ دې مبارکه مياشت کښې پۀ کثرت سره تلاوت کوونکي جوړ شو۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

دے شوقِ تلاوت دے ذَوقِ عبادت
رہوں باوُضو میں سدا یاالٰہی! (3)

## (3): نفل روژې

د شَعبَانُ الۡمُعَظَّم دريم اهم عبادت نفل روژې دي۔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رَمَضَانُ الۡمُبَارَک نه پس د ټولو نه زياتې روژې پۀ شَعبَانُ الۡمُعَظَّم کښې خوښولې۔ د مسلمانانو خوږه مور جانه، حضرت عائشه صِدِّيقه طيبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهَا فرمائي: د **اللّٰه پاک** آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما پۀ شعبان کښې زيات پۀ بَله مياشت کښې پۀ روژو نيولو نۀ وو ليدلے، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د يو څو ورځو نه علاوه ټوله مياشت روژې نيولې۔ (4) يو ځل د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې پوښتنه وشوه: د رمضان نه پس کومې روژې افضل

---

1...لطائفِ مَعَارِف، صفحه:186۔

2...لطائفِ مَعَارِف، صفحه:186۔

3...وسائلِ بخشش، صفحه:102۔

4...ترمذی، کتاب:الصوم، باب:ماجاء فی وصال شعبان برمضان، صفحه:206، حديث:736۔

دي؟ اوئې فرمائيل: د رمضان د تعظيم د پاره د شعبان روژې نيول-[1]

## د نفلي روژو مختصر فضائل

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په حديثونو مبارکو کښې د نفلي روژو ډير فضائل بيان شوي دي- **درې روايتونه بيانووم: (1)**: چا چې د ثواب په اُمّيد يوه نفلي روژه ونيوله **الله پاک** به هغهٔ د دوزخ نه د څلويښتو [40] کالو (په مزل) لرې کړي-[2] **(2)**: که چا يوه ورځ نفلي روژه ونيوله او د ټولې زمکې سره زر هغهٔ له ورکړے شي نو بيا به هم د دې ثواب پوره نه شي د دې ثواب خو به د قيامت په ورځ ميلاوېږي-[3] **(3)**: چا چې يوه ورځ نفلي روژه ونيوله **الله پاک** به هغهٔ د دوزخ نه دومره لرې کړي څومره چې د زمکې او د اسمان ترمينځه فاصله ده-[4]

## (4): د اِستغفار کثرت

څلورم اهم عبادت کوم چې په **شَعبَانُ الۡمُعَظَّم** کښې کول پکار دي هغه **توبه او اِستغفَار** دے، په دې کښې حکمت دا دے چې د **شَعبَان** د مياشت چې څومره عظمت دے، هُغه همره ډيره نازکه هم ده، **په حديثِ پاک کښې دي**: دا هُغه مياشت ده د کومې نه چې خلق غافله دي حالانکې په دې کښې د خلقو اَعمَال د رُبُّ العالـمين په بارګاه کښې وړاندې کولے شي-[5] ✿ په دې مياشت کښې ملک الـموت عَلَيۡهِ السَّلَام له د هُغه ټولو لِسټ ورکولے

---

1...ترمذی، کتاب: زکوٰۃ، باب: فضیلتِ صدقه، صفحه: 189، حدیث: 663-

2...کنزالعمال، جز: 8، جلد: 8، صفحه: 255، حدیث: 24148-

3...مسند ابی یعلی، مسند ابوهریره، جلد: 4، صفحه: 459، حدیث: 6123-

4...معجم کبیر، جلد: 7، صفحه: 49، حدیث: 13742-

5...مسندِ اَحمَد، جلد: 36، صفحه: 85، حدیث: 21753-

شي، د چا چې به په راتلونکې کال کښې رُوح قبض کولے شي-[1] ❁ د دې مبارکې مياشتې په پينځلسمه شپه **اللّٰہ پاک** د بَنُو كَلب د چيلو د ويښتو برابر خلقو ته بخښنه کوي او هغوئي د دوزخ نه ازادوي-[2]

**اللّٰہ پاک** دې په دې مبارکه مياشت کښې مونږ ته د ډير زيات اِستغفار کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

بَراءَ ت دے عذابِ قبر سے نارِ جہنم سے | مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولیٰ(3)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د تفسير اوريدو او بيانولو حلقه

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په زړه کښې د عشقِ رسول زياتولو، په سنتو باندې د تللو، د نيک نمونځ کزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ او د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي- د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د تفسير اوريدو او بيانولو حلقه** هم ده- ❁ **قرآنِ مجيد زده کول ډير د فضيلت کار دے:** ❁ په حديثونو کښې داسې مضمون دے: په داسې حال کښې سبا کړه چې يا خو ته عالِم يې او يا د دِين طالبِ عِلم[4] ❁ د يو روايت مطابق سحر د قرآنِ مجيد يو آيت زده کول د 100 رکعاته نفلو نه بهتر

---

1...جامع صغیر، صفحہ:369،حدیث:5964-

2...الترغیب والترھیب، کتاب الصوم، باب الترغیب فی صوم شعبان، صفحہ:351،حدیث:11-

3...وسائلِ بخشش، صفحہ:98-

4...دارمی، المقدمة، باب فی ذھاب العلم، صفحہ:96،حدیث:254-

دے۔ (1)

✿ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي عاشقانِ رسول د سحر د نـمونځ نه پس د تفسیر اوریدو او بیانولو حلقه لګوي ✿ په دې کښې د قرآنِ پاک درې آیتونه ✿ د هغې ترجمه او تفسیر اوریدے او بیانولے شي ✿ د فیضانِ سُنَّت دَرس ورکولے شي ✿ شجره شریف لوستلے شي ✿ دُعا کیږي او ✿ په اخِره کښې د اشراق او ځاښت نـفلونه هم ادا کولے شي

✿ **تاسو هم د تفسیر** اوریدو **او بیانولو په حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ!** اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډیر برکتونه به درنصیب شي ✿ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې سحر جومات ته د نیکۍ زده کولو د پاره لاړ شي، هغه ته د عمرې ثواب میلاویږي۔ (2) ✿ چې د سحر وخت په نیکو کښې تیر شي نو برکت به مو نصیب کیږي ✿ ټوله ورځ به مو ښه تیریږي ✿ سحر سحر به مو د عِلمِ دِین زده کولو موقع نصیب کیږي ✿ د شجره شریف په شکل کښې به د نیکانو بندګانو ذِکر کیږي ✿ د هغوئي محبت به په زړه کښې کښیني ✿ د اولیائے کرامو رُوحاني توجه به درنصیب کیږي ✿ ایمان به مو تازه کیږي ✿ د هغوئي په وسیله به شوې دُعاګانې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! قبلیږي ✿ یو ډیر لوئې برکت دا چې **د سحر د نـمونځ نه تر اشراق پورې په جومات کښې ایساریدل د خوږ مصطفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي** په دې باندې به د عمل کولو سعادت درنصیب کیږي ✿ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې د سحر د نـمونځ نه پس په ذِکرُ الله کښې مشغول اوسي، بیا د اشراق، ځاښت نفلونه وکړي، هغه ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې کیږي۔ (3)

1...ابن ماجه، باب فضل من تعلم القرآن وعلمه، صفحه:48، حدیث:219۔

2...مستدرك، کتاب العلم، باب من جاء المسجد...الخ، جلد:1، صفحه:281، حدیث:317۔

3...شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:420، حدیث:3957۔

## ویزې میلاؤ شوې

یو اِسلامي ورور تقریباً د 14 کالو نه په بهر ملک کښې دے چرته چې د هغهٔ خپل کاروبار دے، هغهٔ ته یو ځل په کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پیښ شو- هغهٔ د ویزو د پاره بیا بیا درخواستونه جمع کړل، خو د ډیرو کوششونو باوجود ویزې میلاؤ نه شوې- ډیر کلونه داسې تیر شول، هغهٔ ډیر پریشانه وو ځکه چې د ملازمانو د نشتوالي په وجه د هغهٔ نقصان کیدو- خیر هغهٔ همت وکړو یو ځل یـې بیا درخواست جمع کړو، په دغه وخت کښې یو اِسلامي ورور هغهٔ ته د **شجرهٔ قادریه عطاریه** نه د شجرهٔ عَالِیَه د دُعائیه شعرونو لوستلو مشوره ورکړه- هغهٔ د شجرې شریف دعائیه شعرونه پرله پسې لوستل شروع کړل- اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! **د شجرهٔ قادریه رضویه ضیائیه عطاریه** لوستو په برکت د هغهٔ هغه کار کوم چې د تیرو ډیرو کلونو راسې نه کیدو، ډیر په حیرانۍ سره په یو څو ورځو کښې وشو او هغهٔ ته ویزې میلاؤ شوې-

مُشکلیں حَل کر شَہِ مشکل کُشا کے واسطے | کر بَلائیں رَد شہیدِ کربلا کے واسطے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ”بهارِ شریعت“ ایپلي کیشن تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي د جدید ټیکنالوجۍ په ذریعه هم په مختلف انداز کښې د نیکۍ د دعوت په عام کولو کښې مصروف دے، په دې لړ کښې اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې یو ډیر ښکلے، هانګړے او فائده مند موبائل ایپلي کیشن **بهارِ شریعت** ***(Bahar e shariyat)*** هُم دے: ✿ د صدر الشّریعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ‌عَلَیۡہ د ډیر اعلیٰ کتاب **بهارِ شریعت** درې واړه

جلدونه پۀ دې اېپلي کېشن کښې شامل کړے شوي دي ❀ د دې نه علاوه پۀ بهارِ شريعت کښې شامل قرآني آيتونه، حديثونه، اصطلاحات او لغت د دې اېپلي کېشن حصه ده ❀ تاسو پۀ دې اېپلي کېشن کښې خپل مطلوبه متن هم لټولے شئ ❀ د سرچ (***Search***) د نور بنه کولو د پاره پۀ دې کښې د اُردو د کي بورډ سهولت هم دے د پاره د دې چې پۀ اېپلي کېشن کښې پۀ سرچ (***Search***) کولو کښې اساني وي۔

## صَلُّوۡاعَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې ديني فريضې ترسره کوي۔ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! ❀ د کنزُ الـمدارس بورډ پۀ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❀ تقريباً **د 16 زره 500 نه زيات** جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** ماشومانو د پاره قائم دي، پۀ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (***Specialization***)، فرض علوم کورسز کولے شي ❀ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره **د 5 لاکهه او 30 زره** نه زياته ده ❀ د زيات عمر اِسلامي ورونړو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً **د 74 زره 887 نه زيات** مدارس الـمدينه بالغان او بالغات قائم کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د لوستونکو شميره د 4 لاکهه 26 زره نه زياته ده ❀ د فيضان آن لائن اکيډمی پۀ ذريعه تقريباً 24 زره طالبِ علمان ديني تعليم حاصلوي ❀ اوسه پورې تقريباً **21 دار الافتاء اهلسنت** جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې **اوسطاً 20 زره** ده ❀ د الـمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** پۀ ذريعه پۀ ديني

لټریچر باندې تحقیقي کار کیږي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې شعبې لاندې اوسه پورې پۀ **1784** **کتابونو او رسالو** باندې کار شوے دے، پۀ دې شعبه کښې ګڼ شمیر مَدَني علمائے کرام فریضې ترسره کوي، د **اللّٰه پاک** پۀ کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګانې ورکوي ❀ د دیني لټریچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره **مکتبة المدینه** جوړه کړې ده، چرته چې پۀ بهترین او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسیمِ رسائل (یعنې د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسیمولو) سلسله هم وي او کتابونه هم خرخیږي ❀ پۀ ټوله دُنیا کښې د دیني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظمي سیټ اپ دے، د ذیلي حلقې نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُوریٰ پورې یو نظام جوړ دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ❀ د عاشقانِ رسول تربیت کولے شي او دوئي د دیني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته لیږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (یعنې د کټې نه بے پروا) کیدو سره د دِین خدمت کوي ❀ د میډیا په مختلفو پلیټ فارمز باندې هُم د دین د خدمت سلسله جاري ده، مثلاً ❀ پرنټ میډیا (د ډیرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فیضانِ مدینه د شائع کیدو سلسله هُم جاري ده کومه چې دا وخت د دنیا په 7 ژبو کښې شائع کیدونکې کثیر الاشاعت ماهنامه ده) ❀سوشل میډیا (مثلاً، یوټیوب (***YouTube***)، فیس بک (***Facebook***)، انسټاګرام (***Instagram***) وغیره باندې موجود تقریباً 100 اکاؤنټس دي پۀ کومو باندې چې) تقریباً 50 ملین (***Million***) یعنې 5 کروړه فالورز (***Followers***) دي او د ویوز شمیره د بلینز (***Billions***) یعنې د 100 کروړه نه هم زیاتو پورې رسیدلې ده- ❀ د دې نه علاوه مَدَني چینل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چینل، د مشرانو مَدَني چینل او د عربی د ویب چینل پۀ ذریعه د دِین اِسلام خدمت کیږي ❀ د

آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې **32 موبائل ايپلي کيشن** او **40 اِسلامک ويب سائټس** جوړ کړے شوي دي ❁ پهٔ ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د خير خواهۍ د پاره د ايف جي آر ايف (***Faizan Global Relief foundation***) شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې اوسه پورې ❁ **د 34 لاکهه 16 زره نه زياتې** وَنې نالې کړے شوې دي ❁ تقريباً د **76 لاکهه 82 زره** او **958** ګسانو امداد شوے دے ❁ **5 زره** او **566** کورونه جوړ کړے شوي دي ❁ د **75 زرو** او **721** نه زيات د وينې ډراپونه عطيه کړے شوي دي ❁ هيلتهـ کئير سنټر (***Health Care Center***) ته د اوسه پورې د **61 زره** او **667 زره** نه زيات مريضان راغلي دي۔

تاسو هُم د دين د خدمت د پاره په دې کار کښې حصّه شامله کړئ، خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ **ستاسو عطيات يعني چنده پهٔ هرقِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې، نيکۍ او د امدن زياتولو پهٔ جائز او محفوظ کارونو کښې لګيدے شي۔**

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ رَجَب کښې لوستونکې دُعا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د نبيانو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ رجب شريف کښې دا دُعا لوستله:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَان

**ترجمه:** اے **الله** پاکه! تهٔ زمونږ د پاره پهٔ رَجَب او شعبان کښې برکتونه عطا کړې او مونږ تر رمضان پورې ورسوې۔ [1]

راځئ چې مونږه هم دا دُعا ولولو:

---

1...مُسْنَدِ بَزّار، جلد:13، صفحه:117، حديث:6496۔

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَان

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## يو څو ضروري اِعلانات

✿ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ‌بَرَكَاتُهُمُ‌الۡعَالِيَه پۀ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نمانځۀ نه پس به (تقريباً 8:15 بجې) پۀ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتۡ‌بَرَكَاتُهُمُ‌الۡعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ✿ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ‌بَرَكَاتُهُمُ‌الۡعَالِيَه هره هفته د يوې **دِيني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د عاشقانِ دُرُود او سلام واقعات** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله پاک** د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي!

اِمامِ اعظم رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه پۀ خپل ژوند مبارک کښې خپل اولاد او شاګردانو ته د ښه ژوند تيرولو پۀ اُصولو باندې مشتمل ډير وصيتونه ارشاد کړي دي، پۀ دغه وصيتونو کښې يو څو مکتبة المدينه د **اِمامِ اعظم کی وصیتیں** پۀ نوم رساله کښې د چاپ کولو سعادت حاصل کړے دے، د دې سره سره د حضور محدِّث اِمامِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد صاحب رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه پۀ مبارک سيرت باندې مشتمله رساله پۀ نوم د **فيضانِ محدِّثِ اعظم** يې هم چاپ کړې ده- دا دواړو رسالې د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پۀ ترتيب سره پۀ **17**

روپۍ او **14** روپۍ پهٔ بيعه واخلئ، پخپله يـې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِیۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِیۡ وَمَنۡ اَحَبَّنِیۡ کَانَ مَعِیۡ فِی الۡجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ”پهٔ کور والؤ باندې خرچ کول“ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک: (1)**: د قيامت پهٔ ورځ باندې به د عمل پهٔ تَله باندې د ټولو نه وړومبے د بنده پهٔ خپل کور والؤ باندې خرچ کړے شوے مال کيښودے شي- [2] **(2)**: څوک چې د ثواب پهٔ نيت باندې پهٔ خپل کور والؤ باندې خرچ کوي نو دا د هغهٔ د پاره صدقه ده- [3]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ کور والؤ باندې خرچ کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ خپل کور والؤ باندې خرچ کولو ❁ د حديثِ پاک مطابق د هجرت نه

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2...معجم الاوسط، جلد:4، صفحه:329، حديث:6135-

3...مسلم، کتاب:الزکاة، صفحه:502، حديث:1002-

پس یو وخت داسې هم راغلو چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپل کور والؤ د پاره د ټول کال غَلّه جمع کوله-[1]

د دې حدیثِ پاک لاندې د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ چې کومه شرح بیان کړې ده، د هغې خُلاصه دا ده چې دا یعنې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول کال د پاره غَلّه جمع کول، د بنو نُضَیر د قلعې فتح کولو نه پس خبره ده- دا هم یاد ساتئ چې حضور، جانِ کائنات صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اکثر چې د ټول کاله غَلّه جمع کوله خو د اُمَّت پاکو مئیندو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُنّ به پهٔ کثرت سره صدقې او خیراتونه کول، د ټول کال غَلّه به زر ختمیدله او نوبت به لوږو ته رسیدلو-[2]

بھوکے رہتے تھے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابِر تھے مُحَمَّد کے گھرانے والے

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول کال غَلّه جمع کول دې د پاره دي چې دا عمل د اُمَّت پهٔ حق کښې سُنَّت جوړ شي، ګنې د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور والا د کمزوري زړهٔ والا نهٔ وې (بلکې هغوئي پهٔ **الله پاک** باندې کامِل یقین لرونکې وې)-[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!    صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتـبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیرِ اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره

1...احیاء العلوم، کتاب: توحید، جلد: 4، صفحه: 343-

2...مرآۃُ المناجِیح، جلد: 5، صفحه: 949-

3...احیاء العلوم، کتاب: توحید، جلد: 4، صفحه: 343-

د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہئے چَشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو( 1 ) |

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّیٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[2]

راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ

الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

1...وسائل بخشش، صفحه:669۔

2 ګ افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ

صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

---

1 ګ القول البديع، الباب الثانی، ص ۲۷۷

2 ګ افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۳۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

---

1 گ القول البدیع، الباب الاول، ص ۱۲۵

2 گ الترغیب والترهیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث: ۳۰

3 گ مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة گ الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الۡحَلِیۡمُ الۡکَرِیۡمُ، سُبۡحٰنَ اللّٰہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیۡم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 گ تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵